PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

# شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

## درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي او اسمان یې ټینګ نیولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. رښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

## درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت:

از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۰۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د وری ۲۱ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الاول ۳۰ مه د۲۰۱۳ م د اپریل ۱۰ مه

# ولسمشر دې د ټاکنو کمیسیون مشر په انتصابي ډول نه ټاکي

**د ډیموکراسۍ د معیارونو خلاف د ولسمشر له لوري د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د انتصاب لپاره هرډول اقدام د رڼو، ازادو او عادلانه ټاکنو تضمین نه شي کولای**

کابل، رسنۍ:
د سیاسي ګوندونو او ایتلافونو د همکارۍ شورا وایي، که چیرې ولسمشر د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون مشر په انتصابي ډول وټاکي، نو په راتلونکو انتخاباتو کې به درغلیو ته لاره هواره کړي.

د دې شورا غړو د سې شنبې په ورځ په کابل کې یوه اعلامیه صادره کړه او غوښتنه یې وکړه، چې د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون مشر، غړي او کمیشنران باید د قانون له مخې وټاکل شي.

د سیاسي ګوندونو او ایتلافونو د همکارۍ شورا غړي شاولي کریمزوی د دې اعلامیې یوه برخه داسې ولوسته:

"د ډیموکراسۍ د معیارونو خلاف د ولسمشر له لوري د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د انتصاب لپاره هرډول اقدام د رڼو، ازادو او عادلانه ټاکنو تضمین نه شي کولای.

پاتې ۴ مخ

# هند در مساله‌ء افغانستان نمی تواند بی تفاوت باشد

**آنچه در افغانستان واقع می شود، از لحاظ فزیکی، مذهبی و روانی در هند هم صورت می گیرد**

کابل، رسنی:
وزیر دولت در امور خارجه هند میگوید: کشورش در مساله افغانستان بی تفاوت بوده نمیتواند.
هند می گوید: در باره وضیعت افغانستان نمی تواند و نباید که بی تفاوت باشد.
سلمان خورشید وزیر دولت در امور خارجه هند به روز دوشنبه تاکید کرد که کشورش در مساله افغانستان تماشاچی بوده نمی تواند. اما او در مورد مسایل منطقه بی محتاطانه برخورد کرده است.
به گفته او، آنچه در افغانستان واقع می شود، از لحاظ فزیکی، مذهبی و روانی در هند هم صورت می گیرد.
روزنامه اندین اکسپریس در مورد این اظهارات وزیر دولت در امور خارجه هند نوشته که گفته است: هر چی در کشور همسایه ما واقع می شود، بر هند تاثیر گذار است.

بقیه در صفحه ۴

# اگر کسی ادعا دارد که وکلا پول گرفته اند، اسناد ارایه کند

**زمانیکه یک فرد حکومتی از امکانات دولت به وکلا پول می دهد، این حق عامه و منابع افغانستان می باشد که اگر این موضوع واقعیت داشته باشد و اسناد آن برای ما برسد، ما به حیث یک اداره این قضیه را تحقیق می کنیم. (اداره عالی مبارزه با فساد اداری)**

کابل، رسانه ها:
اداره عالی مبارزه با فساد اداری در افغانستان می گوید: هرگاه اسناد موثق در باره موجودیت فساد اداری در ولسی جرگه وجود داشته باشد در مورد آن تحقیق خواهند کرد.
اداره عالی مبارزه با فساد اداری در افغانستان از آن عده وکلا می خواهد تا اسناد و شواهد را که نشان دهنده فساد اداری در ولسی جرگه...

بقیه در صفحه ۴

# انتظارها از پارلمان

(تورن غلام سخی) - صفحه دوم

# سمون به څوک راولي؟!

(محمد خلیل) - دریم مخ

# بریتانیا له افغانستانه خپل ټول سمندري پلي ځواکونه باسي

کابل، رسنۍ:
بریتانیا وایي چې له افغانستانه د خپلو زرګونو سمندري پلیو ځواکونو وروستۍ ډله هم باسي.
بریتانیا په تېرو لسو کلونو کې په بېلا بېلو وختونو کې افغانستان ته څه باندې څوارلس زره سمندري پلي سرتېري رالېږلي او هره ډله د ماموریت له پوره کېدو وروسته بېرته خپل هیواد ته ستنه شوې ده خو اوس چې بریتانیا د ناټو د نورو هیوادونو په شان له افغانستانه خپل پوځیان په تدریجي ډول د ۲۰۱۴ کال تر پایه باسي،

پاتې ۴ مخ

# دو تبعه فرانسه که در افغانستان ربوده شده بودند، رها گردیدند

کابل، رسانه ها:
دو تبعه فرانسه که از چند ماه به اینسو در دو ناحیه افغانستان گروگان گرفته شده بودند، به سفارت فرانسه در کابل سپرده شده اند.
پییر بورگی یکی از این اتباع فرانسه است که از ماه نومبر پارسال در قید ربایندهء گانش در ولایت میدان وردک بسر می برد.
به گفته مقامات افغان، آقای بورگی ساعت نه شام یکشنبه از بند رها شد و در حال حاضر در وضیعت خوب صحی قرار دارد.
گروگان دومی که از وی نام برده نشده، در

بقیه در صفحه ۴

# د افغانستان د جګړې له خواوو د ښځینې د نړیوالې موسسې غوښتنه

AMNESTY INTERNATIONAL

کابل، رسنۍ:
د ښځینې نړیوالې موسسې یا امنسټي انټرنشنل په افغانستان کې د ملکي تلفاتو پر زیاتېدو ژوره اندېښنه ښکاره کړه، ویې ویل: په افغانستان کې د ملکي وګړو د تلفاتو وروستۍ څپه دا اړتیا رامنځته کوي چې د جګړې ټولې خواوې د ملکیانو د مرګ ژوبلو د مخنیوي لپاره له لا ډېر احتیاطه کار واخلي.
دې موسسې په یوه اعلامیه کې، چې نن یې خپره کړې، ویلي: د دوشنبې په ورځ لږ ترلږه نهه تنه ملکي افغانان ووژل شول او تر شلو ډېر نور هغه مهال ټپیان شول چې په وردک ولایت کې د یوه بس په لاره کې ماین وچاودېده او باور کېږي چې طالبان د دې حملې مسوولیت په غاړه لري.
تر دې یوه ورځ مخکې د لسو ماشومانو په شمول دوولس ملیکان په کونړ ولایت کې د ناټو په هوایي برید کې ووژل شول.
د ښځینې نړیوالې موسسې د اسیا – پسفیک مرستیال رییس ...

پاتې ۴ مخ

# امریکا د زابل د برید انتقام د شیګلیو ماشومانو واخیست

عبدالله کامه وال

تیره ورځ یوځل بیا د امریکا هوایي ځواکونو په شیګل ولسوالۍ کې زموږ پرمظلومو اوبې ګناه ولسي وګړویې رحمانه هوایي برید وکړ او یولس تنه واړه ماشومان اوځوتنه مظلومې تور سرې په شهادت ورسولې داسې ویل کیږي چې دابرید دزابل په ولایت کې پرامریکایانو دبریدپه ځواب کې شوې چې څو تنه لوړ رتبه امریکایي چارواکې پکې وژل شوي وو، امریکایانو د زابل دبرید انتقام له بې ګناه شیګلیو ماشومانو واخیستو اوهغه بېنتو متل یې ...

بقیه در صفحه سوم

ACKU



د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# په کنړ کې د ایساف ځواکونو یو بل له وحشت نه ډک تاریخي ظلم

د تېرې یکشنبې په ورځ د کونړ ولایت په شیګل ولسوالی کې د امریکا هوایي ځواکونو یو ځل بیا د خپل وحشت او بربریت په ښکاره کولو سره د یو کور یولس تنکي ماشومان او ښځې په سرو وینو ولمبول.

ښځ په افغانستان کې د ناټو ځواکونو په وحشیانه بمباریو کې دا لومړی ځل وي چې د یو کور لس ماشومان یو ځای په شهادت رسول کېږي.

په حقیقت کې دا دومره دردونکی او غمونکی پېښه ده چې هر با ضمیره انسان ددغې پیښې پر عاملینو لعنت وایي او خپله کرکه ښکاره کوي، مګر د امریکا هوایي ځواکونه ددې پرځای چې له شرم او خجالت نه خپل سرونه ګریوان ته ښکته او خپلې ګناه ته متوجه شي په دوه ګوتو د لمر پټولو کوښښ کوي او دا بهانه وړاندې کوي چې په کوم کور کې دا ماشومان او ښځې وژل شوي دي له هغه نه دری تنو طالبو جنګیالیو ډزې کولې خو دهغوی دا خبره ځکه د منلو وړ نه ده چې یو ترینګ شوی جنګیالی کله هم خپل کور د مورچل په توګه نه استعمالوي. او نه دا خوښوي چې له هغه سره دهغه کورنۍ غړي هم په یو ځای ووژل شي، که بالفرض کوم طالب جنګیالی دا غلطي هم وکړي نو دا دې لپاره دلیل نه شي جوړېدلې چې دهغوی په ټس کې دی دهغوی بې ګناه معصوم ماشومان ووژل شي.

د نړۍ په هېڅ یو عسکري قانون کې دا نشته چې که چېرته کوم دښمن پخپل کور کې او یا هم د بل چا په کور کې ننوځي نو دهغه د وژلو په خاطر دی کور او اوسیدونکی یې ټول بمبار کړی شي.

په نظامي اکاډمیو کې پوځیانو ته یواځې د بمبارۍ او د توغندیو د ویشتلو ترینګ نه ورکول کېږي، بلکې په هنګامي حالاتو کې د مختلفو تاکتیکونو د کارولو هنرونه هم ورزده کوي. د امریکا او ناټو په څېر ترینګ شویو پوځیانو ته دا ګرانه نه ده چې په کور، کلي او بانډو کې له پټ شویو وسلوالو سره څنګه جګړه وکړي او څنګه عامو خلکو ته د تلفاتو له رسېدو پرته جګړه پرمخ بوځي او خپل هدف ترلاسه کړي. په نظامي اصولو کې ددې خبرې هېڅ جواز نشته چې کله کوم وسلوال دچا کور او کلي ته ننوځي او اوسېدونکی د ډال په توګه استعمال کړي نو دهغه د له منځه وړلو په خاطر دې کور، کلي بمبار او اوسېدونکی دې ووژل شي. امریکایي او ایساف ځواکونه دې لږ غونډې په دې خبره غور وکړي چې که چېرته په امریکا او اروپا کې دهغوی کوم مسلح دښمن، غل او مجرم پخپل کور کې او یا هم په کوم هوټل او کلي کې مورچل ونیسي، ایا هلته به هم دهغوی عسکر او هوایي ځواکونه له هغه وحشت نه کار واخلي چې په کنړ کې یې واخیست، او که ټول هغه تدابیر به په کار اچوي چې د کور او کلي اوسېدونکو ته د تاوان له رسېدو پرته یواځې هغه تن له منځه یوسي او یا ژوندې ونیسي چې ورسره جګړه کوي؟!

د امریکا او ناټو ځواکونو له دې عجولانه او بې مسؤولیته کړنو نه صرف او صرف همدا ترلاسه کېږي چې هغوی په افغانستان کې د هېڅ ډول مسؤولیت احساس نه کوي او د هر افغان ژوند که هغه په زانګو کې پروت تنکي ماشوم ولې نه وي هېڅ اهمیت ورته نه لري، خو دا د امریکایي او ناټو پوځونو هغه له خطر نه ډکه تېروتنه ده چې له بدو عواقبو نه به یې کله هم بچ پاتې نه شي.

تورن غلام سخی

# انتظارها از پارلمان

پارلمان افغانستان که از بدو تأسیس تا امروز (۱٦) شانزده همین دور خود را پشت سر میگذراند، گرچه در حکومت های که قانون اساسی اعطائی دارند نقش پارلمان، جامعه مدنی و احزاب سیاسی کم رنگ بنظر میرسد. مگر در نظام مردم سالار تحت شعار دموکراسی، جامعه مدنی و احزاب سیاسی از اقتدار بیشتر برخوردار اند. مگر وضعیت قانون گذاری در درون پارلمان که از این صبغه برخورددار است بدتر شده میرود، تقابل شدید بین سه قوا (اجرائیه، قضائیه و مقننه) و کشمکش های پارلمانی در تطبیق و عدم فیصله های قانونی ولسی جرگه همچنان عدم وحدت فکر و عمل بین وکلای پارلمان سبب آن گردیده است. که پارلمان مملکت اعتبار ملی خود را در سطح جامعه آرام آرام از دست بدهد.

موضع گیری های بعضی افراد و کم توجه نی هیأت اداری پارلمان وضع نامظلوبی را ببار آورده است که از یکطرف پارلمان متشکل از افرادی است که اکثراً مستقلانه بدون عضویت کدام حزب سیاسی شامل پارلمان شده اند از جانب دیگر عدهء محدودیکه با احزاب سیاسی متعلق اند، قسماً بطور افراد مستقل و بدون کدام قیودات و فیصله احزاب عمل مینمایند، که این خود فاکتورهایست که تصمیم گیری های شوری را سمت و سوی دیگری می بخشد.

مهمتر از همه پارلمان در فضایی دموکراسی از احزاب مختلف اسلامی، چپ گرایان، تکنوکراتهای غربی، گروه های دموکرات، ملی گرایان و افراد دیگری که به این و آن وابسته نیستند متشکل گردیده است. خاطره های تلخی تقابل مفکوره ها در طول تاریخ مبارزات آزادیخواهی و جهاد بخاطر دفاع از مقدسات دینی سبب آن گردیده است، تا هواداران هر ایده تصمیم و تفکر خود را داشته باشد، همچنان وابستگی های سیاسی در داخل و بیرون از مرز چالش بزرگ است در تعین سرنوشت تصمیم گیری ها در پارلمان. مداخله قوای مجرئیه در داخل نظام پارلمانی، اصدار احکام و حمایه از افراد از جانب آن قوا ناهنجارهایست که سبب تشویش و دغدغه در اذهان مردم ما گردیده است. از یکطرف وکلای پارلمان از طرف رئیس جمهور غیرقانونی خوانده شده بودند و جناب رئیس جمهور حاضر نبود در جلسه افتتاحیه پارلمان شرکت کند. محکمهء که بمنظور عدالت در مورد حقوق وکلا که بخاطر اعلان نتایج انتخابات اعتراض داشتند تاسیس شده بود و یکتعداد از وکلا را مستحق رفتن به پارلمان میدانست بی نتیجه ماند، ولی با وصف آن هم صلاحیت از محکمه به کمیسون مستقل انتخابات سپرده شد. کمیسیون مذکور بدون استقلالیت فیصلهء را به مشوره قوای مجریه بشکل غیر انتظار صادر نمود که خود حیثیت و ماهیت وجودی پارلمان را زیر سوال گرفت، اعتراض و تحصن تعداد از وکلا بنام تطبیق عدالت و دموکراسی که آنهم بجایی نرسید، زیان های بزرگی بود که بر قانونیت، مصؤنیت و عدالت گذاری پارلمان وارد آمد. توقع مؤکلین از وکلاً در مورد تامین عدالت، نظارت بر حکومت و تطبیق احکام قانون و بالاخره قانون گذاری با گذشت هر روز کمتر شد و اعتماد خود را نسبت به این وضعیت نامطلوب از دست میدهد. وکلای محترم که نماینده گان مردم اند و چشم امید همهء هموطنان و ساکنین این سرزمین بطرف این نمایندگان است. مگر زمانیکه تغییر حالت در زندگی وکلا و فیصله ها و تصامیم و تفکرات انها را نسبت به مردم و وطن شان را می بینند، آنقدر از وکیل و پارلمان فاصله میگیرند که گویا با هم عداوت قبلی داشته باشند. تغییرات کیفی در قانون گذاری و عدم تطبیق قانون و استیضاح وزراء را که در دوره شانزدهم ارزیابی میکنیم دیده می شود بجز از افتضاح در درون شورای قانون گذاری و معاملات پشت پرده هیچ چیز دیگری بنظر نمیرسد که باعث آرامش روح و وجدان ما شود.

بخصوص استیضاح وزراء در چند ماه گذشته سبب نگرانی شدید مؤکلین نسبت به نمایندگان شان گردیده است طوریکه در چند روز گذشته ما شاهد جلسات پارلمان بشکل زنده از طریق تلویزیونها بودیم، بخوبی مشاهده نمودیم که وزراء به جلسات استیضاح حاضر می شدند و مشکلات وزارت خانه های خود را یادآور می شدند، از عدم مواصلت کمکهای خارجی به بودیجه آن ها حکایت مینمودند و عوامل عدم مصرف بودیجه را یادآور می شدند. مگر در مقابل وکلای محترم پارلمان به آنها یکروز رأی عدم اعتماد می دادند ولی بروز دیگر همان وزیریکه از استیضاح موفق بیرون نیامده بود با کسب اکثریت آرا خود را از شر هیولای استیضاح نجات میدادند، گرچه اعتراضات در مورد شکل و میتود کار پارلمان که یا مطابق و یا مخالف قانون اساسی و اصول وظایف داخلی بلند می شد، مگر همه چیز با همه صداهای اعتراض آمیز و غیر اعتراض آمیز ناگهان خاموش میگردید، حتی وزرائیکه به استیضاح خواسته شده بودند و انتظار ورود به صحن پارلمان را داشتند. به اثر اتفاقات که در داخل پارلمان رخ میداد و وکلا مأیوس شده بودند. از حضور چهار وزیر دیگر بخاطر استیضاح خودداری نمودند، به ترس اینکه مبادا در این مورد هم معاملات عقب پرده صورت نگیرد بشکل علنی برای همه رأی اعتماد دادند و از اجرای استیضاح خودداری نمودند. در پهلوی اینهمه در ختم کار استیضاح طی نامهء حکم ریاست جمهوری غرض برائت وزرائیکه به استیضاح مجبور بودند و استیضاح هم بی نتیجه انجام یافته بود، از طریق وزارت امور پارلمانی به ریاست ولسی جرگه سپرده شد. که از طرف معاون دوم ولسی جرگه قرائت گردید. این کار باید قبل از اینکه استیضاح وزراء صورت میگرفت انجام می شد. مگر در پایان کار که همه از روند استیضاح موفق بدر آمده بودند، هیچ اثری نداشت، اینهمه حوادث اتفاهات و تغییرات زمانی در نحوه کار پارلمان و وکلاً تقابلات و تعاملات عمیق را در راستای مسایل مهم ملی کشور، قانون گذاری و اجرای قانون در کشور نشان میدهد که ما در چنین وضع و حالات نابسامان نمیتوانیم بالای هیچ مرجع اعتماد کنیم، مجری قانون وقتی که قانون را مراعات نکند و قانون گذار مطابق قانون عمل نکند پر واضح است که نه جامعه ما صاحب قانون میگردد، نه ثبات سیاسی و نه استقلال و آزادی بدست میاید و نه ما میتوانیم در فضای صلح و وحدت ملی و یکپارچگی زندگی کنیم و همچنان نمی توانیم با چنین وضعیت نابسامان شاهد انتخابات آزاد و شفاف و عادلانه در کشور باشیم.

با ادامهء چنین وضعیت انتظار روزهائیکه باز خدای ناخواسته به مشکلات سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی دچار شویم، داشته باشیم.

از مجریان قانون و قانون گذاران کشور که وظیفه خطیر ملی را بدوش دارند خواهش مندیم تا با درک منافع ملی و مصالح علیایی کشور و احترام به قانون اساسی کشور از تقابل، تصادم و سؤ تفاهم و معاملات پشت پرده که در آن برای یک ملت مسلمان مصلحت نیست، خودداری ورزیده و در راستای یک افغانستان، باثبات آزاد و دارایی حاکمیت ملی بیندیشند که خدای ناخواسته دچار مصیبت شویم که در ان به منفعت مجری قانون باشد و نه از قانون گذار.

محمد خليل

# سمون به څوک راولي؟!

زموږ د زياترو افغانانو لوی مشکل دا دی چې د قاعدې او قانون خيال نه ساتي، هر څوک پخپله پخپله دائره کې له قواعدو او اصولو څخه سرغړونه کوي، خپل اسلامي او ملي مسؤوليت نه ترسره کوي، هرڅوک ايله خپلو شخصي گټو پسې سندې کوي خو د نورو گټې په لتو وهي، داسې ښکاري چې په افغانستان کې ټولنيز فکر له سره کډه کړې او هر څوک د خپلو شخصي گټو پسې ليونی دی، صرف خپل کار جوړوي ولو که د بل چا په تاوان وي. خپله سرمايه زياتوي اگر که بل څوک له لوږې مړ شي. د همدغه ځان ځاني فکر او شخصي گټو لالچ د افغانستان هر څه په داو وهلي دي، حکومت کې هم فساد تر خپلې آخري حده رسېدلی او د ولسي ژوند په نورو څانگو کې هم د شفافيت او روڼوالي نوم او نښه نه تر سترگو کېږي. مطلق اکثريت وگړي د خپل توان او مهارت په اندازه خائن، غل او مفسد دي، تجار پخپل تجارت کې او دوکاندار پخپل دکانداري کې بې ايماني کوي. د کلي زياتره مشران، ملکان او سپين ږيري تر زنو په فساد کې ککړ دي، لنډه دا چې له څو شاذو او نادرو کسانو پرته داسې څوک نه تر سترگو کېږي چې خپل مسؤوليت په ايمانداري او امانتداري ترسره کړي، د هر چا کوښښ همدا دی چې د بل چا د خولې نوړی پخپله خوله کې ومنډي، بده لا دا چې همدا خلک خپل ځانته بې آزاره کونتره هم وايي هر وخت د خپل بام واورې د بل چا پر بام اچوي، خپل درنه او د بل چا سپکه وايي، سره لدېنه چې کارکردگي يې صفر او خيانت يې د لمر په څېر ښکاره دی مگر بيا هم په سلو کې سل خپل ځانونه بې گناه گڼي او په دې خبره تاکيد کوي چې له خپل ولس، هېواد، عقيدې او فرهنگ سره يې هيڅ ډول خيانت نه دی کړی، په داسې حال کې چې دننه په هېواد او له هېواد دباندې په لويو لويو ښارونو کې دهغوی هوټلونه، بلندمنزلونه، تجارتونه او جايدادونه دهغوی په خيانتونو او درغليو برملا گواهي ورکوي، تراوسه پورې داسې کوم وزير، معين، والي، ولسوال، ښاروال، رئيس، قاضي او نور لوړ پوړي چارواکي چا نه دی ليدلي چې هغوی له خپل عادي ژوند نه شاهانه او دعياشۍ ډک ژوند ته نه وي گرځېدلي، وکيلان چې د ولس نماينده گان دي او په دې وعده پارلمان ته استول شوي دي چې ايمانداره او خدمتگار وزيران به ټاکي او خپل ولس به د داړه مارو او لوټمارو غلو څخه ژغوري، د څو محدودو وکيلانو پرته نورو ټولو د پارلمان هال يې د ډالرو د پيدا کولو مارکيټ گرځولی دی، د غلو، قاتلانو، بداخلاقو او بدمعاشانو سرپرستي کوي، لنډه دا چې د افغانستان مطلق اکثريت وگړي د خپلو دندو او وظيفو کې د خپل توان تر آخري کچې په فساد او درغلۍ کې ډوب دي، د هېواد او ولس جوړونې خپل ايماني او ملي مسؤوليت يې هېر کړی او د پيسو له ټولولو پرته بل هيڅ ارمان او ارزو نه لري، څرگنده خبره ده چې کله د يو هېواد وگړي د بې حسۍ او بې مسؤوليتۍ په ژور ډنډ کې غرق شي هغوی کله هم د آرام او هوسا ژوند خاوندان نشي کېدلی بلکې په يو عالم کړاوونو او جنجالونو کې اخته کېږي، ددې پرځای چې د عزت او ابرو ژوند ولري بل چاته د گدايي کچکول نيولو ته اړ کېږي، ملي جوړښت يې زيانمن او داخلي ثبات يې متزلزل کېږي، بالاخر اغيارو ته دا فرصت په لاس کې ورکوي چې د هېواد له حريم او پولې څخه واوړي او په آرامه زړه خپل ناولي اهداف پکې پلي کړي.

که موږ افغانان خپل موجوده ستونزې او کړاوونه د عقل او منطق په لابراتوار کې ټسټ کړو نو خامخا به دا نتيجه ترلاسه کړو چې ددغو ټولو ستونزو تر ټولو لوی لاس زموږ د افغانانو دی او دا ستونزې موږ پخپله پيدا کړې دي، بهرنيانو ته د لاسوهنې زمينه موږ برابره کړې او همدا موږ د دولت او اقتدار په لالچ کې د بل چا دلاس آله او وسله گرځېدلي يو.

که د دومره لوی تباهۍ باوجود چې هره ورځ د بهرنيو ځواکونو او خپلو افغانانو دلاسه موږ ته رسېږي زموږ مړ ضميرونه او ويده عقلونه بيدار نه کړي، نو هغه ورځ ليرې نه ده چې ډېر ژر به خپل ټول مادي او معنوي ارزښت له لاسه ورکړو او تل لپاره به د غلامۍ زنځيرونه په غاړه وگرځوو. که چېرته واقعاً د يو آزاد، خودمختار او سرلوړي افغان په توگه ژوند تېرول غواړو نو بيا له دې پرته بله لاره نه لرو چې د تشو لافو شافو او منافقانه خبرو پرځای عملي ډگر ته ورانگو، ټول افغانان پخپلو پخپلو کاري چوکاټونو کې خپل ايماني، ملي او افغاني مسؤوليت وپېژنو، له خپلو ټولو ځان غوښتنو او جاه طلبۍ څخه ځانونه وژغورو، ملي اجماع او ملي يووالي راولو، له يو بل سره د اتفاق او ورورولۍ مضبوطې اړيکې ټينگې کړو، له خپل خالق ذات الله جل جلاله، ولس او خاورې سره د مينې او اخلاص ثبوت وړاندې کړو، د فساد، درغلۍ، تعصب، ځانځانۍ او بې ايمانۍ کوم کارونه چې تر اوسه پرمخ وړو له هغو نه نصوحه توبه وباسو.

څکه چې زموږ د خلاصون اساسي لاره همدا ده او الهي قانون همدادی چې تر څو پورې يو قوم د خپل حالت د بدلولو کوښښ پخپله ونه کړي، الله تعالی دهغوی حالت نه بدلوي.

# امريکا د زابل د بريد انتقام د شيگليو ماشومانو واخيست

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...ربښتيا کړ چې پر تامې وس نه رسي مړ به دې پلار کړم.

امريکا تل د ترهگرو او دهغو د دښمنانو انتقام له بې گناه ولسونو اخيستي دی او د خپل وحشت او بربريت اوربې پر مظلومو اوبې دفاع ولسونو سوځ کړي. دشيگل په وحشيانه بريد سره امريکا د خپلسرۍ او بلواگرۍ بل ثبوت هم ورکړ چې موږ څنگه د خپلو فوځيانو انتقام اخلو او له چايي اخلو باک نه کوي چې هرڅوک وي دهر عمر وي په هرځای کې وي خو چې افغان وي مسلمان وي او پدې خاوره پيداشوي وي او پدې کې نه دچا له اخطارونو ويره لرو او نه يې له گواښونو دا کله ناکله يوه نيمه وقفه پدې مانا نه ده چې گڼي موږ به نور افغانان د ترهگرو او طالب په نامه نه وژنو، هوايي بريدونه به نه کوو، کورونه به نه ورانو او د ترهگرۍ په نامه روانه جگړه کې به گټي گوړې ويشو، نه داسې نه ده موږ ديوې اوږدې او خونړۍ جگړې پيل کړي او ترهغې چې خپلې موخې ته نه يو رسيدلي دا وژنې او ورانۍ به دوام لري او پدې جگړه کې به تاسو زموږ دگټو لپاره د سر مال اوناموس قرباني ورکوئ. څکه دامريکا سره دوستي دومره ارزانه او اسانه نه ده، د اياري د سر، مال اوناموس په قيمت ده او افغانان بايد پدې مړ کونو او وژنو له موږنه خوابده نه کړي داوړې وړې پيښې لکه دشيگل او ورډگو پيښې بايد زموږ پر دوستي او ملگرتيا بد اغيز ونکړي موږ او تاسو په روانه جگړه کې يو دبل ممد يو خو تاسو بايد زموږ په سيمه کې زموږ دگټو او سياسي حضور دزاوې وکړئ که تاسو ته يې تاوان هم وي بايد يې گالی او موږ په نيمه لارکې پرېنږدئ. بلخوا زموږ بې واکه او تش په نامه حکومت بيا څه موده وړاندې ويلي و چې ناټو او امريکايي هوايي قواوې به نور په عملياتو کې برخه نه اخلي څکه افغان امنيتي ځواکونه اوس دعملياتو د ترسر کولو توان او وړتيا لري. موږ اوس ملي اردو، پوليس، د کماندو ځانگړي قطعه، هوايي ځواک او سرحدي قواوې لرو نور بايد په کوردننه عمليات پخپله افغانان ترسره کړي. خو زموږ دحکومت دادول څرگندونې اودړ کې هسې يوس بادول اوپېرې دي اودولس په سترگو کې تر خاورو شيندلو پرته ورته بل نوم نه شو ورکولای څکه داخونه لومړۍ پېښه ده اونه راته وروستي ښکاري هره پېښه تريخلې تر څه اووير جنه ده گڼي نو ولې ديرونی پيښې پوښتنه نشته او که شته نو څنگه پوښتنه ده چې دهرې پيښې وروسته يو کميسيون وټاکل شي سيمې ته ولاړشي دواليانو دملستيانو برخمند شي دتحايفو سره راستانه شي خو دپيښې راپور معلوم نه شي چې څه شوې او اوپه راتلونکي کې ورته څه تدابير لري چې د داډول پيښو مخه ونيسي خو هر کميسون چې تللی نو په تگ يې دملي تلويزيون له لارې خبر شوي يو خو په راتگ يې هيڅ څوک هم نه دی خبر داکميسيونونه ولې له نړۍ والو ځواکونو سره هغه تعهد خبره نه کوي چې د دوی او افغان دولت ترمنځ شوي دوی ولې هغه تړونونو ته ژمن نه دي څکه پدې هکله د کابل او واشنگټن ترمنځ مسلسل خبرې اوتعهدونه شوي چې نور به خپلسري عمليات اوړندې بمبارۍ نه کيږي او دترډې وروسته به بې گناه انسانان نه وژل کيږي که چيرې په کوم ځايي کې امنيتي ستونزې وي نو دافغان دولت سره به شريکيږي او ترډيره به دعملياتو چارې پخپله افغان ځواکونه سمباله وي او ترڅنگ يې ښاغلي کرزي هم دړکې او پټکي وکړې چې پيښې نورې دزغملو نه دي او اخطارونه ورکړل، چې بهرنيان دې زموږ کلي او کورونه نه ورانوي ترهگر زموږ په کلو او بانډو کې نه دي دترهگرو دتمويل اوتجهيز مراکز له افغانستان نه بهر دي، ولسمشر داخبرې تيرکال په کونړ کې دهغه پيښې وروسته وکړې چې دامريکايي الوتکو په بمبار کې خوتنو تنکيو ماشومانو پداسې حال کې خپل ژوند له لاسه ورکړ چې د غره په لمنو کې يې دېخلي لپاره خاشاک ټولول، ولسمشر کرزي په هغه غونډه کې چې په کونړ کې جوړه شوې وه په ژړغوني انداز کې وکړې او دناټو مشر ته يې هغه ماشوم چې په بمبار کې يې دبدن غړي له لاسه ورکړي وښوده او په ستغو الفاظو يې مخاطب کړ چې نور موږ داډول پيښې نه شو زغملی خو د دې ټولو سره سره د ناټو مغرورو او څناور خصلته فوځيانو يو ځل بيا دکونړ په شيگل ولسوالۍ کې وحشيانه هوايي بريدونه وکړ او پدې بريدونو کې يې هم دتېر په څېر بې گناه او مظلوم انسانان ووژل. پدې کې پولس ته داسې دي چې عمرونه يې د دوو او اولسو کلو ترمنځ دي دا ماشومان چې تر دې دمه پرې دخدای حق هم نه و خو دانسانيت دښمنانو په ډيره بې رحمۍ په شهادت ورسول زه نه پوهيږم دا ماشومان په کوم جرم ووژل شول او د وژل کېدو لپاره به يې دا د انساني حقونو تش په نامه علمبرداران کوم دليل وړاندې کوي او څه به وايي چې ايا دا گلالي ماشومان د نړۍ خطرناک ترهگر وو چې له ډېرې مودې راهيسې يې په لټه کې وئ او بالاخره موږه توره شپه دمينډو په خوا کې په شهادت ورسول او دشودو خولې مو ورته له وينو ډکې کړې. ايا دې ماشومانو او ميندوبې ستاسو او نړۍ والو اشرگرو ژوند گواښلی و يا يې کوم ترهگريز سازمان کې بې غړيتوب درلود اتومي وسلې يې جوړولې که کومه بله مهمه خبره وه چې په دومره بې رحمۍ اوبې دردۍ موشهيدان کړل کورونه مو ورته ړنگ او په کنډوالو بدل کړل؟

که له همدې نړۍ والو اشرگرو پوښتنه وشي چې ايا دې بېگناه ماشومانو ستاسو د ماشومانو په څېر د ژوند حق نه درلود ايا د دوی د کورنۍ غړو به دې ماشومانو ته هيلې او اميدونه نه درلوده ايا هغه ميندې اوپلرونه چې ستاسو دوحشيانه بمباريو له لاسه يې دزړونو ټوکړې له لاسه ورکړې اوس ستاسو د ظلم او ستم له لاسه دغم پرتغرناست دي تاسو وبخښي؟ هغوی خو پدې هيله وو چې دا گلالي ماشومان به غټ شي او د کورنۍ او هيواد لپاره به خدمت کوي او د دوی دژوند پېټي به سپکوي او که دې لپاره يې زيږولي وو چې د ديموکراسۍ او انساني حقونو تر روڼکي شرمسان به نړۍ په همدې وړو کتوب کې ژوند اخلي تاسو نور د ديموکراسۍ او انساني حقونو چغې اوسورې مه وهئ، تاسو نور دنړۍ د تاريخ تر ټولو بدترين ولس يئ، تاسو دانسانيت په پاکه نامه تور داغ يئ، ستاسو نوم اوس دنړۍ دمستبدو ولسونو په قطار کې راځي خو تاسو تيمور، چنگيز، هلاکو، او پرونۍ روس نه هم دظلم، استبداد اوبربريت کيسې واړولې اوددې پيړۍ تر ټولو وحشي فطرته قوم ياد شوئ خو افسوس چې موږ ديوښتنې او گرويږنې هيڅ څوک نه لرو نو موږ دهمدې سزاوار يو چې وژل کيږو به کلي او کورونه به مو ورانيږي پر ديني او ملي ارزښتونو به مو ملنډې وهل کيږي خو موږ به هيڅ نه شو ويلای څکه چې دطالب اوالقاعده ټاپه رباندې لگوي دترهگر او دهشتگر د نوم راباندې ږدي نو بايد خوله چوپه وساتو. او ستا دظلم او ستم په وړاندې سرټيټ کړو خو داهم په ياد ساته چې دلته ستاپه شان ډېر مغرور سرونه په ډېر کبر او غرور راغلي خو تللي نه دي او که کوم يو تللي نو ترټه يې سرونه ټيټ اونومونه يې ورک دي ته هم دهمدې ورځې شيبې شماره.

# مړه يې مه بولئ ژوندي دي

## د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهيدانو ياد

## شهيد انجنير محمد سليم

عبدالقدير مشهور به انجنير محمد سليم فرزند عبدالحفيظ در سال (۱۳۳٦ هـ) پنجاه و هشت سال قبل از امروز در قريه چهل کپه کيلگی دوشی ولايت بغلان چشم به جهان هستی گشود. پدرش که از همان آوان صباوت در چهره پسرش اثار متانت و ذکاوت را مشاهده می نمود، او را پيش از پيش به آينده های درخشان اين کودک اميدوار ساخت. هنگاميکه قدير هفت ساله شد پدرش او را با عالمی از آرمان به مکتب ابتدائيه کيلگی شامل ساخت. عبدالقدير توجه زيادی به درس و تعليم داشت، با لياقت و استعداد خداداد که داشت دوره ابتدائيه را به موفقيت سپری نمود، در سال ۱۳٤۹ شامل ليسه پلخمری گرديد، ليسه پلخمری که در آن هنگام بزرگترين مرکز سازمان دهی علاقه مندان نهضت اسلامی بود نقش بزرگی ا در رشد شخصيت اسلامی عبدالقدير بازی کرد. عبدالقدير جز کسانی شد که در آن هنگام متعهد به نهضت اسلامی گرديد و به عنوان يک عنصر فعال در مقابله عليه کمونيست ها تبارز کرد.

نامبرده در لابلای ناملايمات زمانه و پيچ و خم مبارزه بالاخره در سال ۱۳۵٤ از ليسه فارغ گرديد. موصوف دربن زمان صاحب آگاهی و بصيرت زيادی بود و خود ميدانست چه طريق و روش را برای رهايی سعادت دارين خود انتخاب نمايد.

عبدالقدير که مراحل پختگی فکری و ذهنی خود را می پيمود در ميان هم کلاسان بعنوان يک چهرهٔ بارز و درخور احترام رسوخ يافت، بالاخره انجنير محمد سليم شهيد شامل پوهنتون گرديد، پوهنتون را محيط باز و مساعدی برای ادامه مبارزه و گسترش داعيه دعوت يافت، در ميان برادران حزبی محبوبيت خاص کسب کرد، با بميان امدن حکومت کمونيستی که ابتلای عظيمی فرا راه دعوت گران مسلمان قرار گرفت، در اين زمان سلسله مهاجرت برای متعهدين نهضت و اکثريت مسلمانان عموميت پيدا کرد. ناچار انجنير محمد سليم شهيد تحصيل را ناتمام گذاشته در سال ۱۳۵۷ برای ادای فريضه مقدس جهاد راه هجرت را برگزيد و بعد از مدتی اقامت در ديار هجرت انجنير شهيد با جمعی از برادران مخلص نهضت تحت قوماندهٔ اسدالله (بنوال) قوماندان عمومی ولايت بغلان در بهار سال ۱۳۵۸ راهی ولايات شمال و عليه رژيم کمونيست بقيام و جهاد مسلحانه پرداختند و فتوحات زيادی را در ساحات مختلف ولايات شمال نصيب شدند. فتوحات و پيروزی های مجاهدين با همکاری همه جانبه مردم مسلمان آن مناطق از همين نقطه آغاز گرديد. زمانيکه روسها غرض اشغال افغانستان بخاطر حمايه و نجات حکومت کمونيستی از خطر سقوط لشکرکشی نمودند و قوی ترين پايگاه خود را در اطراف کيلگی جای اصلی انجنير شهيد انتخاب نمودند.

انجنير شهيد برای مقاومت طولانی و جنگ فرسايشی خود را در مقابل نيروهای اشغالگر اماده کرد و قرارگاهی را در درهٔ (خواجه صفايی لرخواب) تاسيس نمود. قرارگاه انجنير محمد سليم شهيد در ولايات شمال افغانستان بزرگترين پايگاه ضد روسی بشمار ميرفت. نيروهای روسی همه‌ء از آنجا مورد آماج حملات مجاهدين انجنير محمد سليم قرار ميگرفت. کاروان های مجاهدين ولايات مرزی بکمک و رهنمايی مجاهدين وی رفت و آمد ميکردند. جهاد مسلحانه را انجنير شهيد با سائر همرزمان مؤمن خود در برابر اشغالگران روسی و لشکريان مزدور ان (خلق و پرچم) ادامه ميداد. چنانچه در بحبوحه‌ء درگيری های محمد سليم شهيد با دشمن چندين نفر از سربازان روسی که بطور اسارت و يا تسليمی در اختيار او قرار گرفته بودند، به اسلام دعوت شدند و آنها بعد از مسلمان شدن در کنار مجاهدين سليم شهيد از سنگرهای اسلام در مقابل دشمن و عمال ان پاسداری نمودند. به همين منوال انجنير شهيد مصروف دعوت و جهاد با مجاهدين خويش بود که در سال ۱۳٦۱ عدهٔ از عناصر حسود، جاه طلب و خسته از جهاد به استثنا دشمنان اسلام تصميم گرفتند تا بزرگترين سنگر جهاد را در شمال (اندراب و لرخواب) را از وجود مجاهدان مؤمن حزب اسلامی پاکسازی نمايند. همان بود که بالای اندراب و لرخواب حمله بردند، و پايگاه های مجاهدين را تخريب نمودند. انجنير سليم شهيد مدت چهل روز در مقابل مهاجمين بی هدف و حملات هوايی روسها دليرانه مقاومت کرد. بالاخره با ترک سنگر با همراهانش به درهٔ (واليان) عقب نشينی نمودند. انجنير محمد سليم شهيد به اثر لياقت و مهارت که در امر رهبری، تجهيز و سوق اداره مديرانه مجاهدين داشت به اساس فيصله شوری ولايت بغلان بصفت قوماندان غند امام قطيبه (رح) تعيين گرديد. که ابتکار وی با پلانهای وسيع که غرض گسترش ساحه جهاد تا قلب دشمن داشت. فعاليتهای خود را شديد ساخت و برای تحقق اين امر ضرور بود تا اختلافات ذات البينی مجاهدين را حل و فصل نمايند. بد خواهان جاهل وی که ديگر در خور تاب جنگ و مقابله با موصوف را نميديدند، در صد ان شدند تا به حيله و تفاهم اين جهادگر بزرگ را از صحنه‌ء جهاد محروم سازند. همان بود که در ماه دلو سال ۱۳٦۵ هجری شمسی زمانيکه در درهٔ سوجان بخاطر ادای نماز قصد گرفتن وضو را داشت. خفاشان کور دل با رگبار مسلسل و راکت از عقب او را نشانه گرفتند و او را به شهادت رساندند. گرچه انجنير محمد سليم ظاهراً ياران را ترک گفت مگر خط فکری و هدف مقصدش ادامه دارد و ادامه خواهد داشت. (انا لله و انا اليه راجعون)

# شهادت
ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

دغه رنګ مرڅاميې غوره امت ګرځولي ياست چې په خلکو ګواهان اوسئ

خبرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسئول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالجليل "جليل"

د اړيکو شميرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسئول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مسترديږي، پوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مينه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com




# افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

## تر ۲۰۱۴ کال وروسته افغانستان

د فارن پاليسي خپرونه د (تر ۲۰۱۴ کال وروسته افغانستان) تر سرليک لاندې يوه مقاله لري، چې وايي: د افغانستان د انتخاباتو بريالیتوب يا ناکامي به تر ډيره حده په دې پورې ارتباط ونه لري، چې څوک بريالی کيږي بلکه د دې شخص د انتخاب په څرنګوالي پورې به تړلی وی.

د خبروني په ليکنه، له دې نه له پام پرته چې څوک بريالی کيږي، افغانان بايد بارو وکړي، چې د انتخاباتو پروسه ازاده، عادلانه او عامه وه او که چيرې داسې ونه شي نو نوی حکومت به يو غير مشروع حکومت وګڼل شي.

دا به په افغانستان کې د شخړو او بې ثباتۍ د دوام سبب شي.

فارن پاليسي ليکي: موجودو خطروتو ته په پام، د امريکا متحده ايالات پدې اړه، چې د افغانستان د راتلونکو انتخاباتو څخه څه انتظار لري او هم د انتخاباتو په اړه د راپورته شويو انديښنو په باب په ښکاره له نظر څرګندولو ډډه کوي.

د خبرونې له دې ليکنې سره سم، دا احتياط د افغانستان د ۲۰۰۹ کال له انتخاباتو سرچينه اخلي، چې نړيوالې ټولنې شديد انتقادونه پرې کړي وو.

تر ټولو ډير انتقادونه جمهور رييس حامد کرزي ته متوجه وو، چې د دوي په وينا د درغليو څخه ډکو انتخاباتو په نتيجه کې بيا غوره شوی وو.

ولسمشر کرزی هم په خپل وار پر نړيوالې ټولنې او په تيره بيا د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا په پخوانې خاص استازي ريچارد هولبروک انتقاد کړی وو او دواړه لوري يې تورن کړی وو، چې د مخالفو کانديدانو ملاتړ کوي او په دې ډول د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله کوي.

فارن پاليسي ليکي، چې جمهور رييس حامد کرزي ويلي، چې د ده د اداري له خوا په ديموکراتيکه ډول د قدرت انتقال، ځای ناستې اداري ته يو تاريخي برياليتوب وی، چې دی يې له قدرت څخه په لرې کيدو په ميراث پريږدي.

د خبرونې په وينا، ولسمشر کرزی به هغه مهال په دې برخه کې بر حق وي، چې که افغانان هم دا ومني، چې د انتخاباتو نتيجه عادلانه ده.

فارن پاليسي د مقالې په پای کې ليکي، چې د افغانستان د راتلونکو انتخاباتو په اړه خوشبينو اوخطروتو ته په پام، امريکا بايد په څرګند ډول اقداماتو ته مخه کړي تر څو دا اطمينان حاصل شي، چې د افغانانو دا غوښتنه عملي بڼه غوره کولای شي.

نيويارک ټايمز ورځپاڼې افغانانو ته د امنيتي مسوليتونو د انتقال په اړه يو مطلب خپور کړی، چې په يوه برخه کې يې ليکلي: په داسې حال کې، چې افغانان په روان کال کې مسوليتونه له امريکا څخه تر لاسه کوي، د افغانستان د ملي اردو لپاره هر ډول ماموريت به په دې لاره کې يو پرمختګ او د دې هيواد پرخليک يا سرنوشت په اړه اساسي پوښتنو ته ځواب وی.

ايا افغان امنيتي ځواکونه به له دې هيواده د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته د دې توان ولري، چې د طالبانو پر ضد په موثر ډول جنګ وکړي ؟

ايا دوي به وتوانيږي، چې د سيميزو مشرانو او د عامو خلکو ملاتړ، چې د دې جګړې د برخليک ټاکلو لپاره مهم ګڼل کيږي، ترلاسه کړي؟

نيويارک ټايمز د نا امنيو ورووستيو پيښو ته اشاره کوي او ليکي: د افغان امنيتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ ورووستی نښتې د جګړې د يوه تازه فصل د پيل حکايت کوي.

# "ايفاد" ۵۸ ميليون دالر با افغانستان کمک می کند

**پول يادشده درعرصه های انکشاف زراعت، اعمار فارم های زراعتی، اصلاح تخم ها، اعطای قرضه های کوچک به دهقانان و ازدياد عوايد آنها، کاهش فقر دردهات، کمک به خانم های بيوه که نفقه دهندهٔ فاميل خود هستند، و اسکان برای کوچی ها، مصرف می شود.**

کابل، پژواک:
صندوق بين المللی انکشاف زراعت "ايفاد" (IFAD) در شش سال آينده، ۵۸ ميليون دالر به افغانستان کمک می کند.
در خبرنامهٔ وزارت خارجهٔ افغانستان، آمده است که توافقنامهٔ اين کمک بدون بازپرداخت، بين داکتر ضيا نظام سفير کبير و نماينده فوق العادهٔ افغانستان مقيم روم و کانايو نوانزو (Kanayo Nawanzo) رييس صندوق يادشده، ديروز در ايتاليا امضا شد.

براساس معلومات وزارت خارجه، پول يادشده درعرصه های انکشاف زراعت، اعمار فارم های زراعتی، اصلاح تخم ها، اعطای قرضه های کوچک به دهقانان و ازدياد عوايد آنها، کاهش فقر در دهات، کمک به خانم های بيوه که نفقه دهندهٔ فاميل خود هستند، و اسکان برای کوچی ها، مصرف می شود.

منبع افزوده است که داکتر ضيا نظام سفير افغانستان در ايتاليا، روز گذشته اعتبارنامهٔ خود را به صفت نماينده فوق العادهٔ افغانستان در سازمان ايفاد، به رييس صندوق بين المللی انکشاف زراعت تقديم کرد.

IFAD
INTERNATIONAL FUND FOR AGRICULTURAL DEVELOPMENT

### ولسمشر دې د ټاکنو کميسيون ...

د سياسي ګوندونو د همکاری شورا د ارګ پرونی ناسته چې په لړ کې يې غواړي د ټاکنو د مستقل کميسيون رييس انتصاب کړي د قانون خلاف او د ديموکراسی د معيارونو خلاف بولي."

د سياسي ګوندونو او ايتلافونو د همکاری شورا وايي، دوی د انتخاباتو د خپلواک کميسيون د مشر د انتصاب په هدف ارګ ته غوښتل شوي وو، خو دوی دغې غونډه کې ګډون ونه کړ.

دغه شورا وايي، د انتخاباتو د خپلواک کميسيون مشر، غړي او کميشنران بايد د هغه قانون د طرحې له مخې وټاکل شي چې دا مهال په ملي شورا کې ده.

په ياده شورا کې شااوخوا شل سياسي ګوندونه او ايتلافونه غړيتوب لري، چې حزب اسلامي افغانستان، ملي ايتلاف، ملي جبهه، حق او عدالت او داسې نور لوی سياسی ګوندونه هم په کې دي.

د انتخاباتو د خپلواک کميسيون د دندو او صلاحيتونو مسوده ولسي جرګې داسې تصويب کړې چې له مخې يې ددې کميسيون مشر او نور غړي بايد د ټاکنو ديوي کميټې له خوا ولسمشر ته د تاييد لپاره په ګوته شي.

خو مشرانو جرګې له دې مادې او ځينو نورو مسايلو سره مخالفت کړی او اوس د دواړو جرګو يوه ګډه کميټه دا مسله څيري.

دا چې رښتيا هم ولسمشر غواړي نن ورځ د انتخاباتو د خپلواک کميسيون مشر انتصاب کړي که نه، په دې اړه تراوسه د جمهوري رياست چارواکو څه نه دي ويلي.

خو پخوا تر دې داسې ګونګوسې وې چې ولسمشر غواړي د انتخاباتو د خپلواک کميسيون د رييس فضل احمد معنوي پرځای کوم بل کس وټاکي.

په ورووستيو څو مياشتو کې جمهور رييس د انتخاباتو د کميسيون يو شمير غړي هم نوي ټاکلي چې ځينو سياسي ګوندونو يې ددې اقدام مخالفت کړی دی.

### هند در مساله‌ء افغانستان ...

او اين موضوع را در هنګام ارايه ګزارش در باره افغانستان به يک مرکز تحقيقاتی موسوم به ګروه پاليسی دهلی ابراز کرد.

پيش از اين، سلمان خورشيد ګفته بود، متوجه شده است که بسياری از انګيزه های ناراحت کننده از سوی برخی ها وجود داشته اما او افزود: اين افراد بايد در مورد پاليسی هندوستان آګاهی کامل داشته باشند.

وزير دولت در امور خارجه هند همچنان ګفت: هندوستان می خواهد تا جزء از راه حل بحران افغانستان باشد.

به ګفته او شماری از افراد می خواهند تا دهلی نو، جزء از مشکل باشند اما هند به آنها اين فرصت را نمی دهند که چنين بګويند.

اين ديلومات ارشد هندی همچنان واضح ساخت که تصميم به پروسه مصالحه با طالبان، مربوط به حکومت رييس جمهور کرزی می شود اما او از نګرانی های دهلی در اين مورد ياد آور شد.

سلمان خورشيد افزود: ما در مورد دسته های طالبان خوب و بد نګرانی داريم اما تصاميم در نهايت مربوط رهبری افغانستان است تا خواستش را اعلان کند.

او همچنان ګفت: اين وظيفه ماست تا با آنها در مورد نګرانی که از آن سايرين برای خروج زود هنګام چشم پوشی می کنند، هشدار بدهيم. ظاهراً اين مساله اشاره، به خارج شدن عساکر امريکايی و ناتو در سال ۲۰۱۴ ميلادی بود.

اين اظهارات وزير دولت در امور خارجه هند در حالی مطرح می شود که قرار است او با يک هيات ارشد در اواخر همين ماه در کنفرانس پروسه استانبول، در شهر آستانه پايتخت قزاقستان شرکت کند.

در نشست روز دوشنبه، شيدا ابدالی سفير افغانستان در هند، از دهلی نو خواست تا اقدامات پيشګيرانه را انجام دهد.

### اګر کسی ادعا دارد که وکلا ...

و يا معامله برخی اعضای اين جرګه با وزيران باشد در اختيار اين اداره قرار بدهد.

محمد امين خورمجی معاون اين اداره به روز سه شنبه به راديو آزادی ګفت: تا حال هيچ يک از وکلا در اين رابطه سندی را برای شان در اين مورد پيشکش نکرده اند.

آقای خرمجی افزود: کسانی که ادعا دارند که وکلا از وزيران پول ګرفته اند بايد سند و شواهد را در اين مورد ارايه کنند:

" زمانيکه يک فرد حکومتی از امکانات دولت به وکلا پول می دهد، اين حق عامه و منابع افغانستان می باشد که اګر اين موضوع واقعيت داشته باشد و اسناد آن برای ما برسد، ما به حيث يک اداره اين قضيه را تحقيق می کنيم."

ولسی جرګه افغانستان در هفته ګذشته هفت تن از وزيران را استيضاح کرد.

اما پس از آن موضوع معامله ميان برخی از وکلا و اين وزيران مطرح شد که از ميان اين وزيران، وزرای اطلاعات و فرهنګ و معادن توانستند برای بار دوم رای اعتماد ولسی جرګه را کسب کنند.

وکلای ولسی جرګه شنبه هفته جاری در مورد دادن رای اعتماد و عدم اعتماد به اين دو عضو کابينه پس از آن به پای صندوق های رای رفتند که بسياری از اعضای ولسی جرګه به توضيحات آنها قناعت نکرده بودند.

برخی از وکلا در اجلاس روز دوشنبه ولسی جرګه ګفتند که فساد و معامله ګری بعضی از وکلا به اعتبار اين جرګه صدمه زده است.

محمد نور اکبری عضو ولسی جرګه افغانستان ګفت که در مورد جلوګيری از معامله ميان وزيران و اعضای ولسی جرګه بايد ګام های برداشته شود: "اګر يک وکيل پول می ګيرد، وزير از کجا می کند يا که از دارايی های دولت و يا هم از اقتصاد مافيا استفاده می کند، آقای رييس جمهور بايد به اين مساله توجه داشته باشد؛ وزيرانش که از تاجر پول می ګيرد و توزيع می کند و خانه ملت را زير سوال قرار می دهد، او وزيرش نيست، او وزير نظام نيست."

پس از اين بحث های ولسی جرګه هيات اداری اين جرګه تصميم ګرفت که برای جلوګيری از اين کار ها روی طرح لايحه تضاد منافع مجلس و ضوابط اخلاقی در کميته روسای اين جرګه بحث خواهد شد.

برخی از اعضای ولسی جرګه می ګويند که اګر جلو اين کار های غير قانونی اين عده از وکلا ګرفته نشود، در اين جرګه بايد بسته شود.

### برېتانيا له افغانستانه خپل ټول ...

سمندري پلي پوځيان سر له اوسه خپل هيواد ته ورغواړي.

د برېتانيا د آی ټي وي (تلويزيون) د راپور له مخې د دغه هيواد دفاع وزير فليپ هامنډ وويل: "د سلطنتي سمندري پليو ځواکونو زړه ورتيا او په حقيقت کې د برېتانيا د ټولو پوځيانو، چې په افغانستان کې يې په تېره يوه لسيزه کې خدمت کړی دی، د ستاينلو ده، د دوی هلې ځلې خورا څرګندې وې."

برېتانيا لا هم په افغانستان کې څه کم لس زره پوځيان لري خو اعلان يې کړی دی چې د سږ کال د دوبي تر پايه به څلور زره عسکر ويباسي.

برېتانيايي پوځيان په هلمند ولايت کې ځای پرځای دي.

له دوه زره لومړي ميلادي کال څخه تراوسه پورې په افغانستان کې د برېتانيا ۴۴۱ پوځيان وژل شوي دي چې له امريکا وروسته د ناټو او د دغه تړون د متحدو هيوادونو په منځ کې تر ټولو زيات دي. په همدې موده کې ۲۱۹۸ امريکايي پوځيان وژل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د نورو ټولو هيوادونو، چې د ايساف په چوکاټ کې په افغانستان کې ځواکونه لري، ټولټال ۶۴۰ سرتېري وژل شوي دي.

### دو تبعه فرانسه که در افغانستان...

بيست و هفتم ماه جنوری ربوده شده بود و روز دوشنبه در کابل رها شد.

اما وزارت داخله افغانستان، تنها رهايی پيير بورګی را تاييد می کند.

صديق صديقی سخنګوی وزارت داخله افغانستان به راديو آزادی ګفت که در مورد ګروګان دومی چيزی ګفته نمی تواند.

مقامات افغان تا حالا در اين مورد هم ابراز نظر نکرده اند که چرا هر دو فرانسوی در ظرف بيست و چهار ساعت از دو محل متفاوت رها شدند.

در اين ميان فليپ لليوت سخنګوی وزارت خارجه فرانسه در پاريس ګفته که هر دو تبعه اين کشور رها شده و حکومت فرانسه از آزادی آنها استقبال می کند.

صديق صديقی سخنګوی وزارت داخله افغانستان ګفته که پيير بورګی توسط نيرو های افغان در ميدان شهر، مرکز ولايت ميدان وردک پيدا شد.

به ګفته آقای صديقی اين مرد فرانسوی از نزد رباينده ګانش فرار کرده بود و در نزديکی يکی از پسته های امنيتی پيدا شد. سپس نيرو های امنيتی افغان او را به کابل انتقال دادند.

سخنګوی وزارت داخله افغانستان همچنان می ګويد: هيچ معامله، برای رهايی اين فرد از نزد رباينده ګانش صورت نګرفته است.

در حاليکه وزارت داخله افغانستان در مورد فرانسوی دومی که از بند رباينده ګانش رها شده چيزی نمی ګويد اما خبر ګزاری فرانس پريس به نقل از مقامات ګزارش داده که اين مرد با موسسه اکتيد در افغانستان کار می کرده است.

اين مرد سی ساله در ماه جنوری زمانی ربوده شد که با يک موتر راهی کارش بود و در همين وقت از سوی يک موتر ديګر توقف داده شد. سپس چهار مرد مسلح او را از موترش بيرون آورده و با خود بردند.

ادرين تومارچيو سخنګوی موسسه اکتيد با آن که نام ګروګان دومی را افشا نکرده اما می ګويد که اين نهاد از رهايی يکی از کارمندانش در افغانستان خرسند است و اين مرد در وضعيت خوب صحی قرار دارد.

تا حالا مسوولين اين اختطاف ها در افغانستان معلوم نيست اما در ګذشته اکثراً شورشيان وابسته به طالبان، اتباع خارجی را در افغانستان اختطاف کرده بودند.

### د افغانستان د جګړې له ...

پولي ترکاڼ وويل: "ناټو او ايساف ته يکار ده چې د خپلو عملياتو په نتيجه کې د ملکي تلفاتو په اړه بشپړه څېړنه وکړي او هغو کسانو ته چې سرغړونه يې کړې ده د سزا ورکولو په شمول د دې ډول پېښو د مخنيوي لپاره اقدامات وکړي."

ده همداراز وويل: "دوی بايد مخکې تر دې چې راتلونکی کال له افغانستانه ووځي د اړولو تلفاتو په وړاندې د هغو خپلوانو ته تاوان ورکړي. ايساف او ناټو بايد ثابته کړي، له دې سره سره چې د افغانستان د حکومت يو لوی څو اړخيز متحد دی، په جګړه کې تر قانون لوړ نه دی."

تر ورووستيو دوو څونړيو پېښو مخکې د روان اپريل په دريمه نېټه په فراه ولايت کې طالبانو شاوخوا پنځوس تنه ووژل او تر سلو ډېر نور ژوبل کړل چې لوی اکثريت يې د ملکيانو و.

د بخښنې د نړيوالې موسسې مرستيال ښاغلي ترکاڼ وويل: «د جګړې ټولې خواوې بايد د ملکيانو او پوځيانو ترمنځ توپير وکړي، د جګړې قوانين يې تفکيکه وژنې منع کړي او پر ملکيانو قصدي بريدونه جنګي جنايتونه ګڼي.»